ژباړه : عبدالرحمن فرقانی ۲۰۱۰/۰٦/۲۲م

# اسلامي ارزښتونه، نهمه برخه

## څلورم باب

### مفصل ایمان

د لا وړاندې تګ لپاره پکاره ده چې ته یوځل بیا دهغه مالوماتو حال واخلي چې په مخکنیو بابونو کې موتا ته په لاندې ډول وړاندې کړي و.

(۱) سره لدې چې داسلام معنی د الله تعالی اطاعت اوفرمانبرداري ده ، خو څرنګه چې د الله تعالی د ذات اودهغه د صفاتو پیژندل، د هغه تعالي د رضا مطابق ژوند کول ، د آخرت په ژوندانه باندې ایمان راوړل ، یوازې د الله تعالی د پیغمبردپیروی له لارې شوني دي ، نود دې لپاره د اسلام د دین سم تعریف دا سې کیدلای شي : د پیغمبر په لارښونه ایمان راوړل اود هغه د کړنلارې مطابق دالله تعالی بندګي کولو ته اسلام وایی . څوك چې د پیغمبرپیروی پیږدي او پرته د پیغمبر له پیروی څخه د الله تعالی د اطاعت او فرمانبرداری دعوا کوي هغه مسلمان ندی .

(۲) په پوخوانی زمانه کې هر قوم ته بیل بیل پیغمبران راتلل ، په یوه قوم کی پرلپسې څو پیغمبران هم راغلي دي . په هغه زمانه کې د هغه دین نوم هم اسلام و، چې د هغه قوم پیغمبرانو یا پیغمبردوې ته ښولي و، سره لدې چې داسلام حقیقت په هره زمانه کی یو و، خو د شریعتونو( قانون اوعبادات ) طریقي ئې څه نا څه سره مختلفي وې ، له دې امله پر یوه قوم د بل قوم د پیغمبر پیروي ضروري نه وه ، خو ایمان راوړل په ټولو باندې ضروري و.

(۳) حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کله چې د پیغمبر په توګه راولیږل شو، نو د هغوې په ذریعه د اسلام تعلیم ( دین ) مکمل کړاي شو ، او ټولی نړی ته یو شریعت راولیږل شو ، د هغوې مبارك نبوت په کوم ځانګړی قوم یا هیواد پورې تړلي نه و، بلکه د آدم علیه السلام ټولي اولادې ته و، اود همیش لپاره به وي . د اسلام کوم شریعتونه چې مخکې پیغمبرانو وړاندې کړي وو، هغه ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتګ سره منسوخ کړاي شول ، اواوس تر قیامت پورې نه بل نبي راځي اونه هم کوم بل شریعت د الله تعالی له لورې رالیږل کیږي ، نو لدې امله اوس اسلام یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیروی او اطاعت نوم دي ، د دوې مبارك نبوت منل ،او د دوې داعتماد پر اساس په هغو ټولو خبرو ایمان راوړل ، چې دوې کړی دي ، د دوې ټول راوړی احکام د الله تعالی احکام ګڼل اسلام دی ، اوس بل داسې سړي د الله تعالی له لورې نه راځي چې د هغه منل مسلمان کیدلو ته ضروري وي ، او په نه منلو یی سړی کافر شي .

راځي چې اوس موږ تاسو ته وښیو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په کومو کومو خبرو د ایمان راوړلو لارښونه کړی ده ، او هغه کومې رینتیني خبرې دي ، او په منلو انسان ته څومره لوړمقام حاصلیږي .

### په الله تعالی باندې ایمان راوړل :

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی او تر ټولو ارزښتناك تعلیم دا دي : لا اله الا الله (د الله څخه پرته بل اله نشته)

دا کلیمه د اسلام بنیاد ده ، هغه څه چې یو مسلمان له یو کافر، ملحد ، مشرك ، څخه بیلوي هغه همدا کلیمه ده ، د دې کلیمه په منلو او نه منلو د یوه انسان او بل انسان تر منځ لوی فرق را منځ ته کیږي ، د دې په منلواو نه منلود یوې ډله او بلې ډله تر منځ توپیر رامنځ ته کیږی ، د دې کلیمه منکوته د دنیا نه نیولي تر آخرت پورې سرفرازي ، سوکالي ، ترقي ، وي ، او نه منکو ته یی نامرادي ، ذلت ، سپکاوي .

دومره لوی فرق چې د انسان اوبل انسان تر منځ راولاړیږي دا یوازې په ژبه باندې د لام الف اوهی څخه د جوړه شوې وړې کلیمې د تلفظ کولو په پایله کی نه راولاړیږي ، په ژبه لس لکه ځله اسپرین اسپرین ووایه تر څو چې اسپرین ونه خورې ستا تبه نه ورکیږي ، همدا رنګه کی په ژبه لا اله الا الله ووایې خو په معنی ئې پوه نشې ، ګټه نشې ترې اخیستلی . د دې الفاظو په ویلو تا د څومره لوې شې اقرار وکړ ، او په ویلو ئې پر تا باندې څومره لویه ذمه داري واوښته ، نو داسې له پوهی پرته تلفظ هیڅ ګټه نلري ، رینتنی فرق خو هغه وخت رامنځ ته کیږي کوم وخت چې دا سپیڅلې کلیمه لا اله الا الله ستا زړه ته لاره پیدا کړي ، د دې په معنی کامل یقین اوباور وکړې ، د دې پرخلاف چې څومره عقیدې دې ستا زړه ورڅخه پاك شي ، او د دې کلیمه اثر ستا په زړه او دماغ باندې دومره ژور وي ،څومره چې پدې خبره ایمان او باور لرې ، چې اور سوځونکی او زهر وژونکی شې دی ، څرنګه چې د اور په خاصیت ستا زړه ایمان لرې او تا ورڅخه ژغوري ، او څرنګه چې په زهرو ایمان لرې اوتا ورڅخه ساتي ، دا راز په کلیمه لا اله الا الله ایمان راوړل باید تا د کفر شرك او الحاد له وړو وړوخبرو څخه هم منع کړي که هغه په عقیده کی وي او که په عمل کی .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**دلا اله الا الله معنی :**

له ټولو وړاندي دا باید زده کړو چې ( اله ) څه ته وایی ، په عربي ژبه کې د اله معنی ( د عبادت مستحق ) ته ویل کیږي، یعني داسې هستي چې د خپل شان اوشوکت او جلال او لویی له لحاظه د پرستش او بندګۍ وړاو لایق وي ، د بندګی او عبادت لپاره د سرد ټیټیدو مستحق وي ، د اله په معنی کې دا مفهوم هم شامل دي ، چی د نه ختمیدونکی قدرت څیښتن وي ، داسې قدرت چی د هغه د پراختیا د څیړنه په پایله کی د انسان عقل حیران شي ، او دا مفهوم هم د اله په ټکي کې شامل دي چی چا ته اړ نه وي ، نور ټول مخلوقات د ژوندانه په معاملاتو کې ده ته اړوي ، د ده څخه د کمك غوښتونکی وي . د اله په ټکي کې د پټوالی مفهوم هم نغښتی دي ، یعني اله هغه ذات ته ویل کیږي چی د ده طاقتونه د اسرارو څخه ډك وي ، په فارسي ژبه کی ( خدا ) په هندي کي ( دیوتا ) په انګلیسي کی ( ګاډ ) هم د همدي ټکی د مفهوم سره برابریږي او د نړۍ په نورو ژبو کی هم ځانګړي الفاظ د دی مفهوم لپاره شته دي .
د الله لفظ د خداي جل جلاله لا شریك له دپاك ذات نوم دی ، د لا اله الا الله لفظي ژباړه داسې ده ، بل اله نشته پرته له هغه ځانګړي ذات څخه چې نوم ئې الله دي ، مطلب دا چی د نړۍ په ټول کایناتو کې د الله تعالی څخه پرته بله داسې هستي نشته چې د عبادت او بندګۍ وړاو مستحق وي ، له الله تعالی څخه پرته بل څوك د بندګۍ او عبادت لپاره د سر د ټیټولو وړ ندي ، صرف همدا یو ذات د ټولي نړۍ مالك او حاکم دي ، ټول شیان ده ته اړ او محتاج دي ، ټول لده څخه د کمك د غوښتلو اړمن دي ، هغه پاك ذات دانساني حواسو څخه پټ دي ، او د دغه ذات د هستۍ په پوهیدوعقل حیران دي .

**د لا اله الا الله حقیقت :**

دا خویوازې د الفاظو مفهوم و ، اوس د دې د حقیقت د پوهیدو کوښښ وکړه ، د انسان د پخوانی تاریخ پیښې او کیسې چی موږ ته رارسیدلي دي ، او د تیرو شویو قومونو آثارچی څیړل شوي ، له هغو څخه په ډاګه کیږي چې انسان په هره زمانه کې یو څوك په خدایی منلی او عبادت او بندګي ئې کړي ده ، اوس هم په نړۍ کې چې څومره قومونه دي ، که هغه هر څومره وحشي دي اویا هم هر څومره مهذب دي ، په ټولو کی دا خبره شته ده چی یو څوك یی په خدایی منلی اوعبادت ئې کوي . له دې څخه دا په ډاګه کیږي چې دي انسان په فطرت کې د خداي خیال پیدا شوي ، پده کی داسې کوم شي شته چی دی د خدایۍ منلو او د هغه عبادت کولو ته مجبوروي .
پوښتنه دا را برسیره کیږي چې هغه څه شي دي ؟ ته په خپله د خپل ځان اود ټولو کایناتو په ځرنګوالي نظر واچوه په خپله به د دې پوښتني ځواب درته په ډاګه شي .
انسان په اصل کې بنده پیدا شوی دي ، هغه فطرتاً اړمن او محتاج پیدا شوي ، نا توانه او فقیر دي ، دیر شیان دي چې د ده د وجود پایدارۍ ته ضروري دي ، خو هغه شیان د ده د قدرت په موټی کې ندي ، خود بخود حاصلیږي هم او لده څخه اخستل کیږي هم ، دیر شیان دي چی ده ته ګټمن دي ، اود هغه دلاسته راوړنه لپاره زیار او کوښښ کوي خو کله یی ترلاسته کوي او کله یی نشي تر لاسه کولی ، ځکه چی د هغو شیانو لاسته راوړنه د ده په واك کی نده .
دیر داسي شیان دي چی ده ته زیان رسوي ، د ده د ټول عمر خواري د سترګو په رپ کې لمنځه وړي ، د ده هیلی له خاورو سره برابروي ، دی په مریضي او هلاکت مبتلا کوي ، دی دهغه شیانو مخنیوي کوي ، کله ئې مخنیوي کیږي او کله نه کیږي ، لدې څخه دی پوهیږي چې د هغه راتګ اونه راتګ د ده له واك څخه وتلي کار دي .
دیر داسي شیان دي چې د هغوي له لیدو څخه انسان حیرانیږي ، غرونه ، رودونه ، لوي لوي هولناك ځانوران ویني، د هواګانو طوفانونه ، او د اوبو سیلابونه ، د ځمکی زلزلې ګوري ، د لمر ، سپوږمي او ستوري تاویدل را تاویدل په ټاکلی سیستم کې ده ته ښکاري ، انسان ویني چی دا شیان څومره لوي دي ، څومره طاقتوردي ، څومره د شان او شوکت خاوندان دي ، او دی ئې په وړاندي څومره عاجز او نا توانه دی ، دا پیاوړي انځورونه او د ده خپلي اړتیاوې د ده په زړه کی د بندګۍ او عاجزۍ او کمزورۍ احساس را پاروي ، او کله چی دا احساس راپیدا شي نو خود بخود ورسره د الوهیت یعني خدایۍ تصور هم پیدا کیږي . خپله د هغه لوي ذات احساس کوي چې د دومره لویو طاقتونو مالك او څیښتن دي ، دا د لویۍ احساس دی مجبوروي تر څو د هغه بندګۍ ته سر ټیټ کړي ، د هغه د قوت احساس دي مجبوروي تر څو خپله عاجزي ورته وړاندي کړي ، د هغه ګټمن قوتونودي مجبوروي تر څو ورڅخه د ستونزو د حل لپاره غوښنته وکړي ، او د هغه زیان اړونکی قوتونه دی دې ته مجبوروي تر څوله هغه څخه ویره ولري او د غضب څخه یی ځان وساتي .

د جهالت په ټیټرینه درجه کې انسان ته داسې احساس پیدا کیږي ، چې هغه شیان چی انسان ته ګټه اوزیان اړولي شي ، همدا شیان په خپله د خداي وړ دي ، نو د ځانورانو ، رودونو ، غرونو ، ځمکه ، اور، باران ، هوا ، سپوږ مۍ ، لمر .. عبادت کوي .
دا جهالت چې کله لږ کم شي او د علم رڼا او روښنایی راشي نو داسي احساس ورته پیدا شي چی ګواکي دا شیان هم د ده په څیر محتاج او کمزوري دي ، تر ټولو لوي او طاقتور څناوران هم د یوې میسې په څیر مري ، لوي لوي رودونه وچیږي ، غرونه په خپله انسان اواروي او ړنګوي ، د ځمکه اوبیدل او پالل په خپله د ځمکی په واك کی ندي ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کله چې اوبه ورته ونه رسيږي نو وچه شي ، اوبه هم خپلواکه ندي ، بيدل يې د هوا اړمن دي ، هوا هم خپلواکه نده ، ګتمن کيدل اونه کيدل يې د بل چا په واك کی دي ، ستوري ، سپوږمی ، لمر هم د يوه ځانګړي قانون تابع دي ، د هغه قانون څخه خلاف يوه ذره هم ښوريدی نشي . اوس د دغه انسان ذهن پټ او د اسرارو څخه ډکو شيانو ته متوجه کيږی ، دا فکر ورسره پيدا کيږی ، چې د دی ظاهري شيانو تر شا کوم پټ قوت شته دي چی په دوي حکمروايی کوي ، اودا ټول شيان د هغه په واك کی دي ، له همدي ځايه د ده سره د خدايانو او ديوتاګانو عقيده پيدا کيږي ،د رڼا ، هوا ، اوبو ، رنځوري ، تندرستي ، او داسي نور شيانو اړوند ځان ځان ته خدايان مني ، او د هغوي خيالي صورتونه جوړوي او عبادت يې کوي .

له دې وروسته چې د علم لږ څه نوره رڼا او روښنايی راشي ، نو انسان ويني چې دا نړۍ او ټکي موجود انتظام او تنظيم د يوه پياوړي قانون تابع دي . د هوا په رفتارکي ، د باران په وريدل کي ، د ستورو په ګردش کي ، د فصلونو او موسمونوپه بدليدل کی د قانون يوالي دي ، دا ټول بي شميره قوتونه يوله بل سره يوځاي کار کوي ، داسي پياوړي قانون دي چی کوم وخت کوم کار ته ټاکل شوي وي په هماغه ټاکل شوي وخت د مختلفو کايناتو د راټوليدو اسباب برابر شي او يوله بل سره ګډ په کاربخت شي ، د دې نظام دا هم آهنګي چی يو مشرك انسان ګوري پدي مجبور کيږي ، چی دا ومني چی يو لوي خداي شته چی په دې ټولو وړو وړو خدايانو حکومت کوي ، که نه نو د نړۍ دا لويه کارخانه به دړی وړی شوي وی که ځان ځانته واړه واړه خدايان وی ، او هر يو له بل څخه ځانته او خپلواك وي . دا انسان لوي خداي( الله )د وړو خدايانو خداي ګڼي او نور داسي نمونه ورباندي ايږدي ، اود لوي خداي په عبادت کی نور واړه واړه خدايان هم شريکوي ، دی فکر کوي چی خدايی هم د نړي د پادشاهانو په څير ده ، څرنګه چی په نړۍ کی د يوه پادشاه دير وزيران او واليان وي .....همدا رنګه د کايناتوخالق هم يو لوي خداي دي ، اوترده لاندي نور واړه واړه خدايان دي ، او تر څو چی دا واړه خدايان خوشحاله نشي لوي خداي ته رسيدل ممکن ندي ، لدې کبله د دوي عبادت هم ضروري ګڼي ، دوي ته هم بايد لاس ورد شي ، د دوي له خپګان څخه بايد ډډه وشي، او دوي لوي خداي ته د رسيدو ذريعه بايد وګڼل شي ، اود نذرونواونيازونوپه ذريعه بايدخوشحاله شي .

او بيا چی دعلم او پوهي په ډګرکي نور پرمختګ اوترقي وشي ، نو د خدايانو شمير هم را کم شي ، څومره خدايان چی جاهلانو جوړکړي که هغه يو يو وڅيړل شي نو په ډاګه کيږي چی دا ټول خدايان ندي ، د موږ په څير بندګان دي بلکه زموږ څخه هم ناتوانه اوبي وسه دي ، پدې څير دا جاهلان تر غور وروسته هغه خدايان يو پر بل پسي پريږدي تر څو په پاي کی يوخداي پاتي شي . څوك ئې داسي ګمان کوي چی خداي زموږ په څير جسم لري او په يومعين ځاي کی ناست اوخپله خداي کوي ، څوك ئې ګمان کوي چی خداي ښځه او اولادونه لري او د انسان په څيرد نسل سلسله چلوي ، څوك داسي ګمان کوي چی خداي د انسان په څيره کی ځمکی ته راکوزيږي ، څوك ګمان کوي چی خداي دا لويه کارخانه جوړه کړی ، او اوس چيرته په کرار ناست دي اوخپل استراحت کوي ، څوك وايی چی خدايی ته د ورتګ او نيردي کيدلوليپاره د لويانو او روحانينو لاس نيوني او واسطه ته اړتيا ده ، او د دوي له واسطه څخه پرته کار نه کيږي ، څوك د خداي صورت په خپل خيال کی جوړوي ، او د عبادت پرمهال د هغه صورت اينبودل د مخ په وړاندي ضروري ګڼي ، د توحيد د عقيدې د درلودلو سره د انسان په ذهن کی دا راز تيروتني ، د دې لامل ګرځي چي انسان د شرك اوکفر سره لاس ګيريوان شي ، اوهمدا د جهالت پاي دی .

تر ټولو لوړه درجه د لا اله الا الله درجه ده ، دا هغه لاربنونه ده چي په خپله الله تعالی د خپلو پيغمبرانو په ذريعه په هره زمانه کي انسان ته رااليږليه ده ، دا علم يی له ټولو انسانانو وړاندي آدم عليه السلام ته ورکړ او ځمکی ته يی را کوز کړ ، همدا علم ئې د حضرت آدم عليه السلام څخه وروسته حضرت نوح ، حضرت ابراهيم ، حضرت موسی عليهم السلام ، او نور ټولو پيغمبرانو ته ورکړ، بيا ئې همدا علم آخري پيغمبرخاتم النبين محمد رسول الله صلی عليه وسلم ته هم ورکړ، او دبشريت د لاربنوني لپاره ئې غوره کړ، دا هغه خالص علم دی چي د جهالت شك او شايبه هم پکی نشته ، پورته موږ د کفر، شرك ، بت پرستی څوډولونه او صورتونه تاسو ته وړاندي کړل ، او په هغه ټولو صورتونوباندي د انسان د مبتلا کيدو لامل د پيغمبرانو له لاربنونی څخه د هغه مخ اړونه وه ، اوهمدا رازپه خپلو حواسو اوعقل باندي اعتماد کړل و .

ان شاء الله په راتلونکی برخه کي به وګورو چي پدې وړه جمله (لا اله الا الله ) کی څومره لوی حقيقت نغښتي دی .

پايان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولـئ